AFGHAN JOURNALISTS SAFETY COMMITTEE
کمیته مصونیت خبرنگاران افغان
د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیته

# رسنۍ په اونۍ کې/ د ډسمبر دریمه اونۍ

تیره اونۍ هم په ولایتونو او زونونو کې د خبریالانو او دولتي چارواکو سره د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د استازو او همکارانو ناستې او لیدونو دوام درلود. په رسنیو کې د خبریالانو او مسلکي کارکوونکو کموالی د دغو غونډو له موندنو څخه یو وه.

**ختیځ زون**

د افغان خبریالانو خوندیتوب کمېټې د ختیځ زون همکارانو تېره اوونۍ د تېر په څېر له ځایي حکومتي مسوولینو، د رسنیو له مسوولینو او خبریالانو سره د لیدنو پرمهال د خبریالانو د وضعیت، امنیتي ستونزو او اطلاعاتو ته د لاسرسي په تړاو بېلابېلې غونډې او ناستې ترسره کړې.

**ننګرهار:** ننګرهار کې د خبریالانو د خوندیتوب کمېټې استازي د ننګرهار ښاروالی د نوي ټاکل شوي وياند سره کتلي او له هغه يې غوښتي چې خبریالانو ته د اطلاعاتو ورکړې زمينه برابره کړي.

**لغمان :**لغمان کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټې  استازي میرویس خواوړي په دغه ولایت کې د (هیرو انلاين ټي وي) په نوم پرلیکه رسنۍ د اوومې کلیزې د نمانځغونډې پرمهال د دغه ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست او نورو چارواکو څخه وغوښتل چې خبریالانو ته د اطلاعاتو د لاسرسي په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړي.

**کونړ:**کونړ کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټې ولایتي همکار له ځایي خبریالانو سره د یوې ناستې پرمهال په کونړ کې د رسنیو پر وړاندې پر شته ستونزو او حل لارو خبرې وکړې.

په دغه ناسته کې خبریالانو پردې ټینګار درلود چې حکومت باید خبریالانو ته د اطلاعاتو لاسرسي، خوندیتوب او رسنیو د ملاتړ برخه کې ځانګړې پاملرنه وکړي.

**شمال ختیتځ زون**

**تخار ولایت:** له بده مرغه په تخار کې فعالې رسنۍ د یو یا دوو کارکوونکو په درلودلو سره خپلې خپروني مخ ته بیایي او د اقتصادي ستونزو له امله د کارکوونکو د جذبولو توان نه لري. خو د اطلاعاتو او کلتور د ریاست له خوا اطلاعاتو ته د لاسرسي بهیر یو څه ښه شوی دی. مګر په رسنیو کې د ښځو غږونه خپرول لاهم منع دي.

په دغه ولایت کې د خبریالانو د فزیکي مصونیت په اړه لا هم اندېښنې شته. دا مهال  د تخار د خبریالانو یوه اصلي ستونزه د عایداتي سرچینو نشتوالی دی، چې رسنۍ یې له اقتصادي ستونزو سره مخ کړې دي.

**بدخشان ولایت:** له تېرو دوو اونیو راهیسې د بدخشان حکومتي چاراواکو ښځینه خبریالانو ته اجازه ورکړې چې خپلو یوتیوب چینلونو ته کار وکړي او له ښار او بازار څخه راپورونه چمتو کوي.

د بانوان په نامه یوه راډیو له یوې میاشتې راهیسې د اقتصادي ستونزو له امله فعاله نه ده. خو د بدخشان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست ددغې رسنۍ کارکوونکو ته د فعالیت د بیا پیل اجازه ورکړې او د همکارۍ ژمنه یې ورسره کړې ده. له بلې خوا، له سقوط شویو شپږو رسنیو څخه هیڅ یوې هم خپل نشرات بیرته نه دي پیل کړي.

د بدخشان ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسوولین له رسنیو سره تقریباً نرم چال چلند لري، خو د دیني خپرونو د نشر په اړه د حکومت پر پالیسی کلک ولاړ دي او وايي چې هیڅ رسنۍ حق نه لري فلمونه، ډرامې، سندرې او تفریحي خپروني خپرې کړي.

که څه هم چې د بدخشان ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست ښځینه خبریالانو او رسنیزو کارکونکو ته په رسنیو کې د کار کولو اجازه ورکړې، خو تر اوسه د دغه ولایت ښځینه خبریالانو د وېرې او اندیښنو له امله خپل رسنیز فعالیتونه نه دي پیل کړي.

**کندز ولایت:** شبنم راډیو په کندز ولایت کې د ښځو د یوې یخوانی راډیو په توګه له امانتي وسایلو نه په ګټې اخیستو خپل فعالیت له سره پیل کړ، خو د ښځنه کارکونکو د نشتوالي له امله یې د اوس لپاره  خپروني نارینه خبریالان او کارکونکي سمبالوي.

**بغلان ولایت:** د بغلان ولایت د اطلاعاتو اوفرهنګ ریاست څخه واردمخه اجازې نه پرته هیڅ خبریال او رسنۍ ته د مرکې کولو اجازه نه ورکول کیږي. تر دې چې خورا لومړني معلومات او اطلاعات باید د دغې ادارې له فلتر څخه تیر شي او بیا رسنیو ته ورسیږي.

## سویل ختیځ زون

**خوست:** دغلته د یوشمیر نورو ولایتونو پرخلاف چي رسنیو ته ویل شوي یوازې اسلامي خپرونې به خپروي، د یو شمیر اسلامي خپرونو ترڅنګ ځیني تفریحي او د موسیقی پروګرامونه هم مخته وړي.

په رسنیو کې ورځ تر بلې د مسلکي کسانو کمښت راځي چي له امله یې په نشراتو هم بده اغیزه لرلې ده اوعلت یې هم دا دی چې رسنۍ له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ دي او نه شي کولای خپلو مسلکي کارکونکو ته لازم مادي امکانات برابرکړي.

د خوست د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست وخت ناوخت خبریالان او د رسنیو مسوولینو سره د همغږۍ غونډې کوي خو د ولایت د مقام له لوري تر دې مه له خبریالانو سره کومه د همغږۍ ناسته نه ده تر سره شوې.

**پکتیا:** په پکتیا ولایت کې د څو میاشتو پخوا په نسبت اطلاعاتو ته د لاسرسي وضعیت ښه شوی دی او بېلابېلې اداري له خبریالانو سره خپل معلومات شریکوي. په دې ولایت کې د ادارو رییسان خبریالا په ډله ایز ډول ادارو ته غواړي او د خپلو کړنو په اړه معلومات ورکوي. خو په دې برخه کې یوه ستونزه لاهم موجوده ده، هغه داچې نظامي ادارې تر ډېره معلومات نه ورکوي یا هغه خبریالان چې په تحقیقي موضوعاتو کار کوي هغوی په ډېره مشکله اطلاعاتو ته لاسرسی مومي.

**پکتیکا:** یوازې د اطلاعاتو او کلتور رییس له رسنیو سره د خبرو حق لري، نور چارواکي معلومات نه شریکوي. د یادې ستونزې د حل او ځینو نورو برخو ته د پاملرنې په هدف د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې استازي تیره اونۍ د پکتیکا ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ له رییس سره ناسته درلوده.

**لوګر:** لوګر ولایت کې اطلاعاتو ته د لاسرسي برخه کې لاهم ستونزې شته، خو د کمیټې د ولایتي استازي په هڅه د روانې اونۍ د دوشنبې په ورځ د لوګر له والي سره ناسته ترسر شوه، چې په دغه ناسته کې د لوګر والي د افغان خبریالانو خوندیتوب کمیټې استازي، خبریالانو او د رسنیو مسوولینو ته ډاډ ورکړ، چې مالوماتو ته د لاسرسي برخه کې به کوټلي ګامونه پورته کوي او هیڅ مالومات به له رسنیو پټ نه پاتې کیږي.

## لویدیځ زون

**غور:** د افغان خبریالانو خوندیتوب کمیټې ولایتي همکار د غور ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ له رییس سره په لیدنه کې د خبریالانو د امنیت او خوندیتوب په برخه کې د سیمه ییزو حکومتي ادارو د ملاتړ او د حکومتي مسوولینو د لا ښه معلوماتو ورکولو او همکارۍ په اړه خبرې وکړې. له رسنیو سره په لیدنه کې هوکړه وشوه چې په راتلونکو ناستو کې به پر نورو موضوعاتو خبرې او کار کیږي. دغه راز پرېکړه وشوه چې له خبریالانو سره به په ناستو کې او د ټلیفون له لارې خبرې کیږي او د هغوی ستونزې به په ګوته او ورته به د حل مناسبې لارې چارې کتل کیږي.

**بادغیس:** په بادغیس کې د یوې سیمه ایزې راډیو مسوول عبدالرازق صدیقي وایي: له وروستیو تحولاتو را وروسته د سیمه ییزو رسنیو اقتصادي وضعیت بدل شوی دی. هغه زیاته کړه، چې د مالي ستونزو له امله یې د کارکوونکو شمېر کم کړی دی، د صدیقي په وینا، که چېرې وضعیت همداسې دوام ومومي او رسنۍ ونه شي کولای چې عاید ولري، د دغه ولایت ډېری سیمه ییزې رسنۍ به وتړل شي.

وروسته له هغه چې په بادغیس ولایت کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټې ولایتي همکار له رسنیو سره د معلوماتو د شریکولو په تړاو د دغه ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ له رییس سره خبرې وکړې؛ اوس د اطلاعاتو د شریکولو برخه کي یو څه ښه والی راغلی دی او ځایي چارواکي له خبریالانو سره معلومات شریکوي.